مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیدعبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۷/۲۶

# اغزنې لارې

قــافله مو نه پوهـــيږم ، چې په كـــومه ده روانه
په اغزنــــو لارو درومی، په بی لارو ســــرګردانه

همه واړه يو له ســــــره ،په تضاد د علم وفــن كې
ځكه هوش له مونږ نه تللی،خبر نه يو له خــپل ځانه

د ناپوهـــی ،جـــهالت،او نادانی پايلـــــه مــــو دا ده
چې هر خــوا مونږ ته ګواښيږي ،هر كافر نا مسلمانه

د حكمت او علم واړه ، په جـــهان كې انــګازې دي
مونږ په لار د ترقی كـــــــې،راروان يو خـــرامانه

دبشــــر قــافلــه درومی ،په درنــــو درنــــو ګامونو
مونږه وروســـته پاتي كيږو ،له قطـــــاراو كـاروانه

ځان ځانی په رنځ اخته يو، ،د حــسد اورو كې سوځو
د خلاصون تدبير مو نشـــته،چې راووځـــو له زندانه

دخودی ټكان لږ وخوره ، د غفلت له خوبه ويښ شه
دابه ځـــو پوري بيده يې ، له خـــوبونو سر ګــرانه

د انسان قدراو قيمت ،په خپل معراج كې دی جهان كې
زمونږ وينه تـــويونه، ښـــكاري هر چــــاته آسانه

د وختونوديــــوان پټ دي ،په جـــامو د پرښـــــتو كې
صورتونه هسي ښــــكاري ، چې ســـوا دي له ايمانه

د انســــــان فريب د پاره، ځان په سپينو جـــامو ښايی
پردې شا نه دستور اخلي ،اهــــــرمن او له شيـــطانه

كه مسجد كه ښوونځی دی ،كه دعلم و فن يو ځای دی
په هر ځای كې دي چاودنې ،هيڅ ځای نه دی په امانه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولـئ

طوطی واره ، د دښمن له خولي يې زده دي څو خبري
خو له ســـره يې ، د علم او مــعرفت ســــره ده ورانه

دا دتورو ضميرونو، خــــاوندان به ســـره ورک شي
که دعلم مشعلونه، په هر ځــــای کې کړو ، روښانه

د قرار رســـی مو ربه! ســـتا په لاس او اخـــتيار ده
د ســـمون او دخلاصـــــون،لاره ده تا سره رحمانه

په تورتم کې د اوهامـــو ،لاس نيوی د هر بنده کــــړې
د ناهيـلو د زړه داډ يـــــې ،په هر چـا يې مهـــربانه

ته د غيب له پردو ووځه،مســـــيحا زمـــونږ د رنځه
راشه راشه چې ورکيږو، ای زمـــونږ د زړه درمــانه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ